عنایت الله پویان

## د سنګرونو شهید



شپه ژاړي ای یارانو ، شین سهار زمونږه څه شو
نشې شوې متکورې، او خمار زمونږه څه شو

د ګل ځانګه شوه ماته، د وحشي توفان څپو کې
غاټول په وینو پریوت، ګلعذار زمونږه څه شو

د باغ سیمه تالا شوه، د ناپوه باغوان له لاسه
بلبلې په ژړا شوې، لاله زار زمونږه څه شو

د تورو شرنګهار کې، د پوزیانو یرغلونه
اردل د لښکریانو، او سالار زمونږه څه شو

چې ګوډه قافله یې، سر منزل ته رسوله
لار شود د ولسونو، مددګار زمونږه څه شو

د سولې پلوی ؤ ، هم کار پوه، هم سیاست پوه ؤ
غمخوار د کونډو ، رنډو ، شهریار زمونږه څه شو

چې برید یې د زمري ؤ ، او یرغل یې د پړانګانو
حافظ د پاکې خاورې، منصبدار زمونږه څه شو

چې سر یې د وطن، د آزادۍ په لار کې بایلود
شهید د سنګرونو، وطنجار زمونږه څه شو

چې هسکه یې شمله وه، د سپینږیرو په جرګو کې
د روغې جوړې خلک، شمله دار زمونږه څه شو

نه شعر شته، نه ورځپاڼې، نه غزل د شاعرانو
ننګیال د پښتو ژبې، خوږ ګفتار زمونږه څه شو

ملګرو وطنوالو، یوه چیغه یوه خوله شئ
وطن تباه ، تباه دی، وطنیار زمونږه څه شو

چې مستې یې نشې وې، د پیالو په کړسهار کې
ساقي د محفلونو، میګسار زموږه څه شو

خاونده پاکه ربه!، ستا دستور و په ښکلا کې
ښایست د آسمانونو، مشعلدار زمونږه څه شو

